# بسم الله الرحمن الرحيم

دلته لاندي د پښتو ژبي د لنډ ګرامر یو شمېر تمرینونه در کول سوي دي.
له دغو تمرینو څخه دوې کتګورۍ خلک کار اخلي لکه:

۱ـ یو ئې ښوونکي دي چي د تدریس په وخت کي ئې زدکوونکو ته را اخلي.

۲ـ بله کتګوري ئې په خپله زدکوونکي دي چي په خپل شوق د پښتو ژبي لنډ ګرامر لولي او د ښه مشق او تمرین له پاره له دغو تمرینونو څخه کار اخلي.

زدکوونکو ته زما مشوره دا ده چي: دغو تمرینونو ته تر جواب ویلو له مخه لومړۍ د پښتو ژبي لنډ ګرامر ښه و لولئ او بیا ئې د ښه زده کولو له پاره د هري برخي تر لوستلو وروسته د هغې برخي پر تمرین کار و کئ!

عبدالعلي رسول زاده

alirasulzada@hotmail.com

www.pashto.se

0046709384755

20200715

# د پښتو الفبې تمرین (١)

ا ب پ ت ټ ث ج چ ح خ ځ څ د ډ ذ ر ړ ز ژ
ږ س ش ښ ص ض ط ظ ع غ ف ق ک ګ ل م ن
ڼ و (ه ۀ هـ) ی ي ې ۍ ئ

پر لاندې کرښه (لیکه) د پښتو ژبې خاص توري و لیکه!

---

دلته لاندې د عربي ژبې خاص توري و لیکه!

---

دلته لاندې د هرې پښتو (ی، ي، ې، ۍ، ئ) درې درې مثالونه و لیکه!

ی: ______

ي: ______

ې: ______

ۍ: ______

ئ: ______

# د پښتو الفبې تمرین ( ۲ )

ا ب پ ت ټ ث ج چ ح خ ځ څ د ډ ذ ر ړ ز ژ ږ س
ش ښ ص ض ط ظ ع غ ف ق ک ګ ل م ن ڼ و ( هـ ه
ـه ) ی ي ې ۍ ئ

په دغه الفبې کي کوم توري واول ( ږغ لرونکي ) توري دي ؟ دلته لاندي ئې و ليکه !

---

په پښتو کي ( و ) دوه ډوله دئ . هر یوه ته درې مثالونه و ليکئ ؟

لنډ ( و ) : ________________________________

اوږد ( و ) : ________________________________

( مد ، زور ، زبر ، پېښ او زورکی ) واول د څه په نامه یادیږي ؟

---

په لاندي کلمو کي پر واول تورو خط کش که !

کور پلار ادي کاغذ قلم چاړه

د الفبې د تورو څخه کلمې لکه : ( ته ، وایم ، ځغلي ، احمد ، پلار ... ) او د کلمو څخه جملې لکه : ( ته کور ته ځې . سدو مور ته سلام و کړ ) جوړیږي .

په جمله کي کلمې دغه لاندي ډولونه لري :

اسم یا نوم فعل د ربط توری
ضمیر قید
صفت د وصل توری

# د اسم (نوم) noun تمرين

اسم د ځايو ، حيواناتو ، انسانانو او شيانو نوم ته وايي لکه :

ـ هلک

ـ نجلۍ

ـ کتاب

ـ کور

ـ ډبره

ـ اسمان او نور .

دلته لاندي پر هره ليکه يو يو اسم و ليکئ!

________________________ ________________________

________________________ ________________________

________________________ ________________________

دلته لاندي دري عام اسمونه و ليکئ !

_________________ _________________ _________________

دلته لاندي دري خاص اسمونه و ليکئ !

_________________ _________________ _________________

لاندي جملي و لوله ، چيري چي اسم وي خط تر لاندي و ليکه !

هلک راځي . زه کتاب لولم . تاسي کور ته ځئ . سپی غاپي .

د پاڼي ترتيبوونکی : عبدالعلي رسولزاده

# د ضمیر pronoun تمرین

ضمیر په خبرو او لیکنه کې د نوم پر ځای را ځي لکه :

| | |
|---|---|
| زه | زما |
| موږ | زموږ |
| ته | ستا |
| تا | تاسي |
| دی | د ده |
| دا | د دې |
| دوی | د دوی |

په لاندې جملو کې تر ضمیرو لاندې خط کش که !

ته کابل ته ځې .

موږ کتاب را وړ .

احمد زما قلم را کړ .

دوی به کله را سي ؟

دا نه ده را غلې .

د متکلم ، مخاطب او غایب ضمیرونه و لیکه !

متکلم : ________________________________________________

مخاطب : ________________________________________________

غایب : ________________________________________________

# د صفت adjectiv تمرین

صفت هغه کلمه ده چي اغېز ئې پر اسم کیږي. په لاندي کلمو کي تر صفت لاندي خط کش سوی دئ:

تور قلم.

سور موټر.

جګ سړی.

ټیټ کور.

ښه زدکوونکی.

بد کارونه

زوړ ښار.

په لاندي جملو کي صفتونه پیدا که او تر لاندي ئې خط کش که!

احمد یو نوی موټر لري.

ملالۍ یوه ښکلې ناوکۍ لري.

ستا ورور ښه سړی دئ.

موږ یو لوی کور لرو.

زموږ کور په هغه زرغونه تعمیر کي دئ.

موږ یو ارزانه بایسکل را نیوی.

دلته لاندي پر هره لیکه یو یو صفت و لیکه چي دلته لوړ نه وي را غلي!

________________ ________________ ________________

# د فعل verb تمرین

فعل هغه کلمه ده چي په جمله کي د کار کول ښکاره کوي لکه: خورم، تلل، راوړه، لولي، ځو او نور. څو مثالونه ئې په جملو کي:

زه ښوونځي ته ځم.

ته هم لوست لولي.

ملالۍ کالي ګنډي.

دوی کورنی کار کوي.

احمد کابل ته ولاړ.

سدو مي و لید چي راغی.

په لاندي جملو کي فعلونه پیدا که او یو خط تر لاندي و لیکه!

ته کندهار ته ولاړ سه!

موږ خپل لوست و لوست.

محمود موټر لري.

تاسي له چا سره خبري کوی؟

تا څه و ویل؟

موږ ننګرهار ته تللي وو.

دلته لاندي شپږ فعلونه و لیکئ!

# فعل د وخت یا زمانې له مخي

فعل کېدای سي په دغو درو زمانو کي را سي لکه:

۱ـ حال (اوس) لکه: زه ځم. تاسي ډوډۍ خورئ. دئ ښوونځي ته ځي.

۲ـ ماضي (تېره زمانه): ماضي درې ډوله ده لکه:

ـ مطلقه ماضي لکه: زه را غلم. تاسي ولاړاست.

ـ قریبه یا نژدې ماضي لکه: زه را غلی یم. دئ تللی دئ.

ـ بعیده یا لرې زمانه لکه: زه را غلی وم. تاسي تللي واست.

۳ـ مستقبل (را تلونکې زمانه) لکه: زه به راسم. تاسي به ولاړ سئ.

دلته لاندي د هري زمانې دوې جملې و لیکه چي دلته لوړ نه وي!

حال ______________________________

______________________________

مطلقه ماضي ______________________________

______________________________

قریبه ماضي ______________________________

______________________________

بعیده ماضي ______________________________

______________________________

را تلونکې ______________________________

______________________________

د پاڼي ترتیبوونکی: عبدالعلي رسولزاده

# د مصدر infinitiv تمرین

مصدر هغه کلمه ده چي د فعل نور حالتونه ور څخه را وزي او یا مصدر د فعل نوم دئ. د مصدر په پای کي تل (ل) وي لکه: خوړل ، چښل ، ویل ، لېږل ، کول، ایښودل ، ایښوول ، لوېدل ، ویښول ، ویښېدل او نور.

مصدر هم لکه فعل لازمي او متعدي لري.

د ګرامر له کتابه ئې زده که او د چښل د مصدر ټولي ریښې و لیکه!

## چښل

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ……………… | ……………… | ……………… | ……………… | ……………… |
| ……………… | ……………… | ……………… | ……………… | ……………… |
| ……………… | ……………… | ……………… | ……………… | ……………… |
| ……………… | ……………… | ……………… | ……………… | ……………… |
| ……………… | ……………… | ……………… | ……………… | ……………… |
| ……………… | ……………… | ……………… | ……………… | ……………… |
| ……………… | ……………… | ……………… | ……………… | ……………… |
| ……………… | ……………… | ……………… | ……………… | ……………… |

# د قید adverb تمرین

په جمله کي قید هغه کلمه ده چي پر فعل ، صفت او بل قید اغېز کوي لکه:

۱ـ د فعل قید لکه : ملالۍ په ژړا را غله .

په لوړه جمله کي (په ژړا ) د را غله فعل له پاره قید دئ .

۲ـ د صفت قید لکه : احمد يو ډېر ښکلی موټر لري .

په لوړه جمله کي (ډېر ) د ښکلي صفت له پاره قید دئ .

۳ـ ملالۍ خورا ژر را غله .

په لوړه جمله کي (خورا ) د ژر قید له پاره قید دئ .

دلته لاندي د قيدو دوه دوه مثالونه و ليکئ !

د فعل قید : ________________________________________

________________________________________

د صفت قید : ________________________________________

________________________________________

د قید قید : ________________________________________

________________________________________

# د وصل د کلمې conjunction تمرين

دا هغه کلمې دي چې دوه اسمونه يا دوې جملې سره نښلوي لکه: او ، چې، مګر ، که څه هم ، که ، هر څومره ، لکه چې ....

مثال ئې: احمد او محمود را غلل.

د ګرامر کتاب و لوله او پر دغو لاندي ليکو داسي جملې و ليکه چې د وصل کلمې پکښې را غلي وي:

______________________________

______________________________

______________________________

______________________________

______________________________

______________________________

______________________________

د پاڼي ترتيبوونکی: عبدالعلي رسولزاده

# د ربط د کلمو preposition تمرين

د ربط توي هغه توري دي چي د اسم يا ضمير اړيکه د فعل سره نيسي لکه: (تر ... پوري ، پر ... باندي ، له ... را هيسي ، له ... نه ، په ... کي، له ... څخه ، له ... سره).

يو مثال ئې:

احمد کابل ته ولاړ.

اوبه په ګلاس کي توی کړه!

د لاندي جملو خالي ځايونه د ربط په مناسبو کلمو ډک که!

ته .......... ما سره ولاړ سه!

زه ...... کابل .......... فاکولته وايم.

سدو ملالۍ .......... و ويل.

شين ګل ........ اختر نوي کالي لري.

........کابل ....... تر کندهار ....... ولاړم.

موږ ......... وختي لا خبر را کړه!

....... سړک ....... غاړي ګلان مه شکوه!

تاسي ....... هرات نوی والي پېژنئ؟

احمد ..........آس سپور دئ.

ته ....... ملالۍ......... ننګرهار ته ولاړه سه!

د پاڼي ترتيبوونکی: عبدالعلي رسولزاده